# په شیکاګو کې د ناټو د سرمشریزې په اړه
# د افغانستان د "ځوانو مشرانو د نوښت" دریځ پاڼه

**د ۱۳۹۱ کال د غويي میاشتې ۱۸ نیټه**

## سریزه


د ناټو ۲۵مه سرمشریزه ، چې د ۲۰۱۲ کال د مۍ په ۲۰–۲۱ د امریکې په شیکاګو ښار کې جوړیږي، او د تیرو سرمشریزو په پرتله یوه بې بې ساري غونډه بلل کیږي،نه یواځې د خپل ماموریت لپاره د لازیاتو منابعو پر تخصیص به یوځل بیا ټینګار نکوي، بلکه دا ټلواله غواړي د یوې لسیزې اوږدې او غیرعادي جګړې کې د جګړې ایز او رهبري کوونکي رول څخه د راوتلو لپاره لارې چارې ومومي. دا د افغانانو دنده ده چې له افغانستان څخه د ناټو ځواکونو د وتلو په صورت کې د رامینځته کیدونکې تشې د ډکولو په موخه اړین احتیاطي اقدامات ترلاس لاندې ونیسي.

د افغانستان د ځوانو مشرانو نوښت پوهیږي چې د شیکاګو په سرمشریزه کې به کیسه توپیر ولري. تمه نه کیږي چې د نړۍ کوم مشر به په افغانستان کې د خپلو نظامي او اقتصادي پلانونو او یا مرستو د زیاتولو اعلان وکړي.

په لویدیځ او په تیره بیا په متحده ایالتونو کې سیاسي او اقتصادي شرایط د ناټو مشرانو ته د دې اجازه نه ورکوي، لکه چې د کابل په ورروستیو امنیتي پیښو کې چې د هیواد د سرحدونو څخه بهر پټن ځایونو کې لوژستیکي پلانونه او آسانتیاوې برابرې شوې وې، چې د یوې نامعلومې مودې لپاره داسې ګرانه جګړه پرمخ بوځي. مګر د ځواکونو چټک وتل به نه یواځې د زړونو او فکرونو د لاسته راوړلو د ماموریت ناکامي تضمین نکړي، بلکه دا کار کولای شي د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته په هیواد کې بله کورنۍ جګړه رامینځته کړي. دا کار، په خپل وار سره، کولای شي په افغان سیاست باندې د برلاسي لپاره د لیرې او نږدې ګاونډیانو تر مینځ سیمه ایزه سیالي لازیاته کړي.


## اندیښنې او وړاندیزونه

ډیری په دې عقیده دي چې د شیکاګو سرمشریزه به د افغانستان د لوبې لپاره د پای ټکې کیږي کوم کار چې به د کورنیو او بهرنیو لوبغاړو لپاره د دې لاره هواره کړي چې په افغانستان کې د خپلو لنډمهاله او اوږد مهاله ستراتیژیکو ګټو د ترلاسه کولو په لټه کې شي. دا د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې دنده ده چې په افغانستان کې د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته مودې لپاره افغان ولس ته څرګند لرلید وړاندې کړي.

د افغانستان د ځوانو مشرانو نوښت په دې باور دی چې په افغانستان کې بریالیتوب کیدای شي یواځې د تیرو لسو کلونو د لاسته راوړنو د ساتلو له لارې چې د وینو او پیسو په سترو قربانیو سره ترلاسه شوه ، تضمین شي. که چیرې لاندې ذکرشوو اندیښنو او وړاندیزونو ته په بنسټیزه او منظمه توګه پام ونشي، افغانستان یوځل بیا کیدای شي د تروریزم او سیمه ایزې سیالۍ لپاره په یوه خونړي پټن ځای بدل شي:

- د تلپاتې امنیت لپاره د افغان امنیتي ځواکونو په ځان بسیاینه ډیره مهمه ده کوم کار چې همدارنګه د اقتصادي پرمختګ مهم او اساسي شرط بلل کیږي. د دې ټکي په پام کې نیولو سره چې مونږ په نا امنه سیمه کې ژوند کوو، افغانستان دیته اړ دی چې د(( بدلون لسیزې))( ۲۰۲۴–۲۰۱۵) په اوږدو کې د پام وړ نظامي ځواک ولري. د افغان امنیتي ځواکونو په شمیر کې

چټک او د پام وړ کمښت به زيات شمير روزل شوي سرتيري بې روزګاره کړي چې دا کار به د لانورو قومي او سياسي شخړو د پيل لپاره يوه بانه وي او هيواد به نور هم زيانمن کړي.

- د ياغيانو سره مبارزه د پوليسو او استخباراتو د لاځواکمنتيا غوښتنه کوي، له همدې کبله د افغان امنيتي ځواکونو وده بايد متوازنه وي او پکار دي چې د اردو او د قانون د تنفيذ ادارو ته يوشان پاملرنه وشي. د پوليسو په پياوړتيا باندې بايد لازيات ټينګار وشي ځکه چې په پای کې به دوی د تروريستانو سره د جګړې پرځای د قانون د واکمنۍ د ټينګولو دنده په وسپارل شي .

- د ۲۰۱۴ کال ولس مشريزې ټاکنې د ټينګو امنيتي تدابيرو غوښتنه کوي چې که چيرې ياغيان د سياسي جوړجاړې له لارې سوله ايز ژوند ته راونه ګرځي، نو بيا افغان امنيتي ځواکونو په يواځې بنه د د دغو ټاکنو د امنيت د نيولو وړتيا نلري. له همدې کبله، د آزادو،عادلانه او رڼو ټاکنو د ډاډيزه کولو او همدارنګه د افغان امنيتي ځواکونو د وړتيا د ازمويلو لپاره د يوه نړيوال سوله ساتي نظامي ماموريت شتون ته اړتيا ده ترڅو د ټاکنو د بهير څخه ساتنه او څارنه وکړي. بايد يادونه وشي چې د افغان امنيتي ځواکونو ناپيلتوب او مسلکي توب بايد ډاډيزه شي ترڅو د راتلونکو ولس مشريزو او پارلماني ټاکنو لپاره د نوموړو ځواکونو په ليکو کې د سياسي پلويتوب مخه ونيول شي.

- د ۲۰۱۴ کال د ولس مشريزو ټاکنو څخه وروسته نوي افغان حکومت ته د واک ليږد ته بايد د يوې مهمې پيښې په سترګه وکتل شي ترڅو د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د ثبات او سياسي بلوغ او پوخوالي په لور د بريالي توب کچه معلومه شي.

د ناټو ځواکونه بايد د بدلون په لسيزه کې د ياغيانو په وړاندې د خپلې مبارزې کار ته دوام ورکړي. د تروريزم په وړاندې عمليات بايد يواځې د افغانستان په پولو پورې محدود پاتې نشي. مخکې له دې چې د امريکې د متحده ايالتونو د امنيتي ځواکونو جګړه ايز رول پای ته ورسيږي، بايد د ياغيانو د پټن ځايونو موضوع حل او فصل شي. د امريکايي بې پيلوټه الوتکو حملې او د افغان ځواکونو له لوري شپني عمليات د طالبانو او القاعده مشرانو په نيولو او له مينځه وړلو کې ډير اغيزناک ثابت شوی چې له همدې کبله بايد دې کار ته دوام ورکړل شي.

## د پای خبرې

په افغانستان کې جګړه د عقيدو او تصوراتو جګړه ده. دا جګړه ځوارځيزه، پيچلې او سيمه ايزه جګړه ده چې د سختو پريکړو او د ټولو خواوو له لوري د ټينګې سياسي ارادې په لرلو سره د هراړخيزې، پراخې او اوږدمهالې ژمنې غوښتنه کوي. د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې لپاره ډيره مهمه ده چې په افغانستان کې بريالۍ پايله ډاډيزه کړي، کنه نو بيا به د تروريزم د ګواښ او سيمه ايزې بې ثباتۍ سره مخامخ وي کوم کار چې د نړيوال امنيت او سولې لپاره ناوړه پايلې ولري.

د افغانستان د ځوانو مشرانو نوښت د افغان ځوانانو يوه ناپيلې او غيرسياسي ډله ده چې په افغانستان کې د ټولنيزو، اقتصادي او سياسي ستونزو د حل لپاره ګټه ارزښتونه او معتقدات لري. د ملت جوړونې په مهمو نوښتونو کې د برخې اخيستنې لپاره د ځوانانو يوموټی کول او د يوې ډاډمنې او عادلانه افغانې ټولنې په جوړولو کې د مثبتو بدلونونو لپاره تبليغ او د خلکو د ملاتړ خپلول د دې ډلې موخې جوړوي. د افغانستان د ځوانو مشرانو نوښت د آسيايي ټولنې د ۲۱ ځوانو مشرانو د پروګرام په مرسته په ۲۰۱۱ کال کې رامينځته شو(www.asiasociety.org). د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره کولای شئ د برښنا ليک په لاندينۍ پته اړيکه ټينګه کړئ: *a21yli@gmail.com*